# پېغله

لیک:- صاحبزاده محمد ادریس
دچاپ کال ۱۹۵۰ء

۱. ۲ لنډه قیصه

د ناول پرانسته د پېښور صدر رېلوے سټېشن کښې د ماسختن په وخت کښې کېږي. ریاض لاهورته روان وي څهٔ ګوري چې د ټکټ اخستو کړکۍ ته یوه زنانه ولاړه وي او د لاهور دپاره ټکټ اخلي. ریاض ورسره ځلهٔ ګډول غواړي څهٔ مناسب ټکي ورسره نهٔ وي نو ورنه تپوس اوکړي چې خور ته لاهور ته روانه یې؟ دغه پېغله څهٔ خاص جواب ورنهٔ کړي او دوئ لاړ شي ګاډي ته وخېژي. جینۍ د ښځو ډبې ته او ریاض د هغې سره تړلې د نارینهٔ ډبې ته وخېژي. په دغه ډبه کښې د اګاهو نه دوه تنه پلار اؤ زوے موجود وي او دے یې درهم شي. او څهٔ ساعت وروستو یو بل کس هم راشي او د دوئ سره ډبه کښې ځانله په یو سیټ کښېني.

دوئ خپلو کښې څهٔ رسمي خبرې اترې اوکړي او دلته معلومه شي چې ریاض ډېر خبر لوخ دے. خبرې هم ډېرې کوي او خپل صفت هم. ریاض احمد وائي چې هغه پوځ کښې برتی، دپاره لاهور ته روان دے. کله چې دغه رېل ګاډے روان شي شپه هم یخه شي او دغه دوه تنه پلار اؤ زوے اودهٔ شي، ریاض پخپله هم کمبل واغوندي خو اودهٔ نهٔ وي ځان یې اودهٔ کړے وي ځکه چې دغه څلورم کس چې وروسته ډبې ته راختلے وي دهٔ ته مشکوک ښکاره شوے وي.

کله چې دغه څلورم تن مطمئن شي چې ټول اودهٔ شول نو دے پاڅي او غلے غلے د ښځو ډبې ته ور روان شي او د زنانهٔ هغه ډبې ته چې کومه زنانه د پېښور نه راختلې وي په هغې حمله اوکړي د دغه سړي لاس کښې چاکو وي او

په هغې د ګذار کولو کوشش کوي ولې دغه وخت ورته رياض هم رارسېدلے وي هغه کس ته تماچه ونېسي او راولاړ يې کړي. دے په رياض د چاکو ګذار ته ځان سموي چې دغه وخت هغه پېغله په دغه کس حمله اوکړي او داسې رياض دچاکو دګذار نه بچ شي. په دغه ساعت کښې هاغه دوه تنه هم د رياض مدد له را ورسي. رياض غل په مځکه راخلاص کړے وي پښه يې پرې اېښې وي. پوليس واله راشي او بيانونه اخلي. رياض وائي چې دے يو وکيل دے او پلار ئې په اسلاميه کالج کښې د فزکس پروفېسر دے. د ټولو سره بحث کوي او دا وائي چې پوځ کښې برتي. دپاره انټرويو له لاهور ته روان دے. او دغه شان د دغه جينۍ سره پېژندګلو هم اوکړي. د دغې زنانه نوم نيلوفر وي دا په مېډيکل کالج کښې طالبعلمه وي او پلار ئې چترال کښې اے پي اے وي. او هم داسې د دوئ دلته يو بل سره پېژند ګلو اوشي خو پوليس واله دوئ ته وائي چې تاسو به زمونږ سره په راتلونکي سټېشن کوز شئ چې قانوني تقاضې پوره کړي. دوئ هلته ټول کوز شي او چې کله قانوني تقاضې پوره شي نو دوئ لاهور دپاره بل ګاډي ته وخېژي او لاهور ته اورسي. هلته د رېل ګاډي نه په کوزېدلو کښې رياض د نيلوفر سره مدد کوي او تر هوسټل پورې ورسره په جلب کښې ځي او دا رنګه د دوئ يو بل سره تعلق نور هم زيات شي. رياض زړۀ بائيللے وي او اور دواړه اړخونو ته يو شان بل وي. او رياض په يو بل کشمکش کښې اخته شي او هغه دا چې د هغه د ماما د ايکي يوې لور سره کوژدنه شوې وي. او بل دا چې نيلوفر ته ئې خور هم وئيلي وي. هوسټل راورسي او رياض د نيلو فر سره بلها خبرې اوکړي هغه ئې بله ورځ کالج ته راوبلي. رياض رخصت شي هوټل ته لاړ شي شپه تېره کړي او سبا له لاړ شي انټرويو ورکړي کومه چې ښۀ اوشي او دے ښۀ خوشحاله وي. د دۀ د رېل ګاډي واقعه هم په ورځپاڼو کښې راغلې وي او ټول خلق خبر شي. په انټرويو کښې ترښه هم په دغه لړ کښې تپوسونه شوي وي. دغه ورځ د انټرويو نه وروستو دے ګرځي راګرځي. او بله ورځ سحر د وعدې سره سم مېډيکل کالج ته لاړشي هلته

نیلوفر دهٔ ته سترګې په لاره وي. د کالج پرنسپل هم د ریاض سره ملاقات اوکړي. د کالج پرنسپل ورته وائي چې دا ټولې جینکۍ زما لونړه دي نو دے ورته وائي چې څکه خو مې خور کړې ده. دې اورېدو سره پرنسپل حېران شي خو غږ و نهٔ کړي. او بیا دغه ځائے نهٔ دے پېښور ته واپس روان شي.

بله ورځ هم هغه د رېل ګاډي د واقعې خبر د انګریزۍ په مشهورو ورځپاڼه کښې خورشي کومه چې د دوئ کره هم راشي. دلته هم ټول خلق خبر شي. او خلق د دوئ کره ټپوسونو له راځي او ریاض پلار ته هم صحیح حال او وائي. هغه خپل کار هم شروع کړي دفتر ته لاړ شي هلته یوه بوډۍ راغلې وي د هغې مدد اوکړي. په تانهٔ کښې ورله ایف ائي ار درج کړي، زوي له ورله هسپتال کښې علاج اوکړي او د کیس انتظام ورله هم اوکړي.

دکور ټول خلق د ریاض د ټرېن په واقعه او نیلوفر کښې دلچسپي اخلي. دے د پوځ دپاره منتخب شي. اود پوځ ټرېننګ یې شروع شي. او د تربیت په اخره کښې د ښهٔ کار په وجه ریاض په لندن کښې د خصوصي تربیت دپاره منتخب شي. په لندن کښې د خپل حلال خوراک دپاره د انتظامیې سره بحث کوي چې مسلمان بې دحلال نه بل خوراک نهٔ خوري. او پدې کښې بریالے شي چې د دوئ لپارد حلال خوړاک بندوبست اوشي. بیا د تربیت په دوران کښې ئې د فریډ او لیوسي سره تعلق جوړ شي فریډ دهٔ ته کوز ګوري او هر ځائے کوشش کوي چې دے پاتې راولي هغه وائي چې دا دمحکوم او کمزوري قام وګړےدے دلته زمونږ سره برا بري نه شي کولے داسې ډېرې موقعې راشي چې فریډ موقعه دلاسه نه ورکوي او د ریاض د بې عزتۍ کوشش کوي اواخر د ریاض دلاسه سم وهل اوخوري. او بیا هغه د ټرېنینګ نه غائب شي. لیوسي د ریاض سره مینه شروع کړي خو هغه ورته خپل حال اوائي او ورته پاکستان کښې هم د نیلوفر د مینې حال ښکاره کړي.

د تربیت پوره کیدو نه وروسته ریاض بیرته پاکستان ته راشي دلته د دهٔ کشره خور د نیلوفر وورور ته وادهٔ شوي وي او د نیلوفر د کورمې سره د

دوئ کورني تعلقات جوړ شوي وي. او دا تعلق هغه وخت جوړشوے وي چې د نیلوفر مور د دوئ کره د شکریې ادا کولو دپاره راغلي وي. او تعلق ورو ورو په رشته کښې بدل شي.

کله چې ریاض بیرته راشي نو یوه ورځ د ملګرو سره ښکار دپاره لاړشي او هلته د دهٔ اس تیندک وخوري دے ترېنه په کاڼو کښې راولوېږي او بې هوشه شي. هسپتال ته ورسولے شي هلته دبې هوشۍ په حالت کښې بیا بیا د نیلوفر نامه اخلي او خلق د دهٔ د راز نه خبر شي.

جمیله چې د ریاض د ماما لور وي او د دهٔ په نامه ناسته وي په څهٔ بهانه هسپتال ته راشي او دهٔ ته وائي چې د نیلو فر سره وادهٔ وکړه. ریاض ورته وائي چې تهٔ لاړه شه او نیلوفر رضا کړه. دا چې کله په هغې پسې لاړه شي نو نیلوفر پاخي او جمیله په تندي ښکل کړي وائي ریاض چې زما په تندي د خورولۍ کوم مهر لږولے وهٔ هغه ما ستا په تندي ولګولو او ما تهٔ خور کړې.

دریاض د کورنۍ دا خواهش وي چې نیلوفر د ریاض د کشر ورور ایاز سره وادهٔ اوکړي خو هغه انکار کوي او بیا نیلوفر په خپله خوښه جمیله ناوې کړي او وادهٔ ته یې تیاره کړي

## ۲.۲ کردارونه

### ۲.۲.۱. ریاض

د ناول مرکزي کردار دے. یو تعلیم یافته زلمے دے چې په پېښور کښې وکالت کوي. په فلسفه کښې یې ماسټر هم کړے وي او څهٔ موده ئې په اسلامیه کالج کښې استاذي هم کړې وي. اوس په پوځ کښې د برتي کېدلو دپاره لګیا وي کوشش کوي او انټرویو دپاره لاهور ته تلے وي.

د ریاض پلار په اسلامیه کالج کښې د فزکس پروفیسري کوي او د یو سائنس دان په حېث ډېر شهرت لري او ډېر خلق یې د یو ښهٔ او قابل استاذ په حېث پېژني او قدر یې کوي.

د ریاض په کردار کښې پروفیسر صاحبزاده محمد ادریس خپل ائیډئیل زلمے وړاندې کړے دے او په دهٔ کښې یې د یو ښهٔ مسلمان او پښتون زلمي ټول خویونه راجمع کړي دي او هغه ټولې خوبۍ چې د یو نارینه د پاره پکار دي ناول نګار په دهٔ کښې ښکاره کړي دي.

په دې کردار کښې ناول نګار هغه هر څهٔ ښودلي دي چې هغه یې د خپل اولاد نه توقع کوي او د ریاض په ژبه ئې خپله ټوله فلسفه، فکر او خواهشونه څرګند کړي دي. ریاض په دې ناول کښې د پرانستې نه واخله تر اخره پورې خپل صفت پخپله کوي او ځان ورته د هر چانه ډېر لوړ پوهه او هوښیار ښکاري.

دے ډېر خبر لوڅ وي چې خبره شروع کړي نو ډېر ه اوږده شي او کله کله پرې د لکچر ګمان کېږي. او چې کله کله جذباتي شي نو بیا دا نهٔ ګوري چې څهٔ وائي او څهٔ اغېزه به ولري .لکه چې یو ځاے (په مخ ۹۱ باندې) وایي چې
"زهٔ د جبریه فلسفې قایئل یم"

دلته دا نهٔ ګوري چې چاته لګیا دے او هغه څومره د دهٔ په خبره پوهېږي.

یو بل ځاۓ وائي چې زما پلار د افلاطون د تصوریت یا ائیډیا یعنې عالم امثال د نظریې منونکے دے او لکه چې یو ځاې خبره کوي (پېغله مخ ۴۲)

" دهغه ایمان دے چې انسان په تربیت د فرښتو ځاۓ ته رسیدے شي او د عرش نه ډېر اوچت د خدایئ مقام ته الوتے شي"

دلته صاحبزاده ادریس صېب د نبي(ص) د معراج ذکر کوي. ولې دائې هېر دي چې دغه مقام ته الله صرف او صرف نبي علیه سلام غوښتلے وهٔ

رياض په لندن کښې هم د خپل ښۀ صلاحيت له کبله ښې نمبرې اخلي او د ملک نو م روښانه کړي. انساني کمزوري هم لري په نيلو فر مېئن هم دے او خور ئې ورته وئيلي وي نو تر اخره د ذهني خلفشار سره مخ وي. نيلوفر ته هم خور وائي ولې بل اړخ ته د هغې د وجود هر اندام ته د يو زلمي په نظر ګوري او د هغې د وجود او حسن نقشه يې ډېره دهوس نۀ ډکه راښکلې وي.

## کمزوري

د دې کردار لويه کمزوري دا ده چې دے پخپله خبره ټينګ نۀ دے د کشمکش سره مخ دے. يو خوايې نيلوفر ته خور وئيلي دي او بل خوا ورسره مينه کوي. بلکه يو ځائے خو چې دۀ له خپله چنغله جميله هسپتا ل ته ورځي نو جميله ورته وائي چې د نيلوفر سره وادۀ وکړه. او رياض ورته وائي چې تۀ هغه رضا کړه او جميله بيا د دې غرض د پاره نيلوفر له ورځي خو دنيلوفر له اړخه ورته په سپېنو ټکو کښې د"نا" داسې جواب مېلاوېږي چې ورسره جميله هم خوشحالېږي. په نورو ټکو کښې مونږ وئيلے شو چې نيلوفر درواېتې پښتنو خوئي لري اګر که تعليم يافته جېنۍ ده .خو د هغې په ذهن کښې هم دا خبره ده چې څنګه يو داسې سړي سره وادۀ کولے شم چې ما ته ئې خور وئيلي دي. د صاحبزاده ادريس دا کردارونه د اسلامي معلوماتو مطابق نۀ دي ځکه په خلۀ نۀ څوک د چا خور کېږي او نۀ وورور کېږي او نۀ زوے کېږي.

## ۲.۲.۲ .نيلوفر

يوه ښائسته پېغله چې په مېډيکل کالج کښې سبق وائي. پلار يې د چترال اے پي اے وي . د نيلوفر کردار د يوې پښتنې پېغلې کردار دے چې قابله او تعليم يافته او ښائسته ده. د خپل حفاظت انتظام کوي. د خپل ښۀ

خوئ او ښۀ تعلق په وجه په ټول کالج کښې مشهوره وي. خپل ملګري او استاذان ورته د قدر په سترګه ګوري.

د نيلوفر په کردار کښې صاحب زاده ادريس صيب هغه ټول خويونه ښودلي دي چې ديوې پښتنې پېغلې نه ئې طمع کېدے شي.

بل اړخ ته ليکوال هم د دې کردار سر ته په رسؤلو کښې پاتې راغلے دے. ولې چې ليکوال دا نۀ ښائي چې د ورونړو غوندې مېنه ګنې د رياض سره کوي. خو د جميلې د خبرې نه وروستو هغې ته د پښتنو په عامه معاشره کښې روايات مخې ته اودرېږي. پکار خو داوۀ چې جميلې ورته په ډېره مشکله دا خبره کړي وے. او ورسره يې اوښکې بهېدلې وے او دغه شان نيلوفر د اورېدو نه پس ورځ دوه سوچ او فکر کړےوے يا ورته اول خو ډېره خوشحاله شوي وے او بيا يې جميلې دپاره قرباني ورکړې وے نو دابه ډېر لوئے کردار جوړ شوے وۀ. دلته خو داسې ښکاري چې کله ورته جميله خبره اوکړي نو داسې معلومېږي چې هغې د وړاندې نه دا فېصله کړې وه چې د رياض سره به وادۀ نۀ کوم. نو اوس دې لوستونکي فېصله اوکړي چې څۀ ورسره کوي. لکه يوځائے دا هم وينو چې رياض ترېنه اوږدۀ بوسه اخلي.

## ۲.۲.۳ جميله

د رياض د ماما لور او دپلار ايکي يو اولاد وي او د رياض په نامه ناسته وي . ښائسته قابله اونيازبينه ده. د رياض په ناروغئ او بې هوشئ کښې د هغه د خُلې نه د نيلوفر نامه بيا بيا خلق واوري نو دا هم خبره شي او په څۀ چل لاړه شي هسپتال ته د رياض سره ملاقات اوکړي او هغه ته وائي چې د نيلوفر سره وادۀ اوکړي. هغه ورته وائي چې لاړه شه او نيلوفر رضا کړه دا په هغې پسې هم لاړه شي.

د جميلې کردار په دې ناول کښې په اخره کښې ښکاره کېږي دا هم مهم کردار دے چې قربانئ ته هم تياره شي . رياض او نيلوفر دواړو ته

پخپلو کښې د وادۀ بلنه ورکوي. ګنې نو هېڅ یوه ښځه داسې نۀکوي او نۀ ترېنه مونږ توقع کولے شو.

## ۲.۲.۴. د ریاض مور

دا یوه پښتنه، بې تعلیمه، هوښیاره او وفاداره ښځه ده چې ځان یې د خاوند په ذات کښې ورک کړے دے. عن تر دې چې د زوئے د وادۀ او ښادۍ په لړ کښې هم د خاوند خبره مني او خپل څوک رشته دار وادۀ ته نۀ رابلي ځکه چې کور ټول وګړي وائي په سادګۍ سره وادۀ کوؤ.

## ۲.۲.۵. پروفېسر فیاض احمد

پروفېسر فیاض احمد د ریاض پلار دے او د ناول د مرکزي کردار سره په هر ځائے کښې که غائب هم وي خو د ریاض په ژبه موجود وي. د ریاض د خبرو نه پته لږي چې اسلامیه کالج پېښور کښې د فزکس پروفېسر دے. د خپلې ایمانداری او قابلیت په وجه ورته هر څوک د احترام او قدر په سترګه ګوري. صاحب زاده ادریس دے د یو مثالي پروفېسر او پلار په ډول وړاندې کړے دے.او غالب ګمان دے چې دا دصاحبزاده ادریس خپل کردار دے.